# د ماشومانو د ژغورنې یا مصؤنیت د خدماتي اداري
# Child Protection Services (د ماشوم د حفاظت خدمات) (CPS) څېړنه

د کورنیو د څواکمنولو پرمهال د ماشومانو مصؤن ساتل



Washington State Department of CHILDREN, YOUTH & FAMILIES



## څنګه کولی شم ډاډ ترلاسه کړم چې زما لخوا وړاندې کېدونکې خبرې اورېدل کېږي؟

- همکار اوسئ او د قضیې د مسؤل نومونه او د هغو خلکو د اړیکو معلومات ورکړئ چې کولی شي اضافي معلومات چمتو کړي. کېدی شي په ځینو مواردو کې کتبي موافقه اړینه وي.
- د دوسیې مسؤل ته اجازه ورکړئ چې ستاسو کور ته د ننه درشي ترڅو وکولای شي وضعیت په سمه توګه درک کړي.
- په ټولو هغو ناستو کې ګډون کړئ چې ستاسو د دوسیې یا ستاسو د ماشوم په اړه دائرېږي.
- د پروسې په اړه او دا چې تاسو څه کولای شئ، پوښتنې وکړئ.
- ډاډ ترلاسه کړئ چې خپل ماشوم هرې هغې لیدژمنې یا متخصص ته ځان سره بیایئ چې اړتیا یې وي.
- ډاډ ترلاسه کړئ چې د هر ډول بدلون لکه ستاسو په آدرس کې د بدلون، تاسو سره په کور کې د نوی کس د یو ځای کېدو یا د اړیکو د نویو معلوماتو په اړه د دوسیې مسؤل ته خبر ورکړئ.
- د منابعو په اړه پوښتنه وکړئ. په ځینو هېوادونو کې، د والدینو مدافع وکیلان موجود دي ترڅو د څېړنې پرمهال له تاسو ملاتړ وکړي.
- د دوسیې مسؤل ته د نورو هغو کسانو په اړه معلومات ورکړئ چې د دغه وضعیت په اړه معلومات لري. څومره چې د قضیې کارکونکی ډېر معلومات ولري هغومره ښه پریکړه کولی شي.



## که چېرې زه د خپلې دسیې په اړه اندېښنه لرم نو د چا سره به اړیکه نیسم؟

که چېرې تاسو شکایت یا اندېښنه لرئ، نو د خپلې دوسیې د مسؤل یا څارونکي سره په اړیکه کې شئ.

---

---

که چېرې ستاسو اندېښنه لاهم نه ده رفع شوې، کلای شئ خپل سیمه ئیز مدیر ته زنګ ووهئ.

---

---

تاسو کولای شئ د مرستې لپاره په هر وخت کې د 1-800-723-4831 شمېرې له لارې Office of Constituent Relations (د مؤثل د اړیتو اداره) ته زنګ ووهئ

-یا-

تاسو کولای شئ د کورنۍ او ماشومانو دفتر Family & Children's Ombuds (د کورنۍ او ماشومانو مأمور) ته په 1-800-571-7321* شمېره زنګ ووهئ.

*دغه استازولي له *DCYF* څخه جلا ده. دغه استازولي د *DCYF* د اندېښنو په اړه څېړنه کوي.

که چېرې تاسو د دغو سند کاپي ګانې په نورو فارمټونو او ژبو کې غواړئ، نو مهرباني وکړئ د ***(1-800-723-4831 | 360-902-8060, ConstRelations@dcyf.wa.gov)*** له لارې د *DCYF Constituent Relations* (د مؤ˜ل اړی˜ې) سره په اړیکه کې شئ.

DCYF PUBLICATION CWP_0083 PS (08-2021) Pashto



## د CPS څېړنه څه شی ده؟

د CPS څېړنه د هغې ادعا ځواب دی چې د ماشوم پر وړاندې د بې توجهۍ یا ناوړه استفادې په برخه کې ثبت شوې ده. دا یوه مفصله او عادلانه هڅه ده چې د حقایقو په اړه پوه شو چې آیا ناوړه استفاده، بې توجهي، یا د ماشومانو پرېښودل واقع شوي دي او که نه، او آیا دا مسئله ماشومان له راتلونکې ناوړه استفادې ا غفلت له خطر سره مخ کوي او که ماشومان خوندي ساتي. دا د مختلفو اړوندو سرچینو څخه د پوښتنو او مرکو له لارې بشپړېږي.

## ولې زما څخه څېړنه ترسره کېږي؟

- د ماشومانو، ځوانانو او کورنیو وزارت Department of Children, Youth and Family (د ماشومانو، ځوانانو او ورنو وزارت) د ماشومانو د خوندیتوب په هکله د اندېښنو د موجودیت خبر ترلاسه کړی دی.
- دې راپور د ماشومانو د ناوړه استفادې او بې توجهۍ حقوقي تعریف پوره کړی دی (RCW 26.44.020).
- دې راپور وښودل چې ادعاګانې په نسبتا لوړ یا د لوړ خطر درلودونکې وې او یا ممکن ستاسو ماشوم ته سمدستي ګواښ متوجه وي.
- DCYF غواړي ستاسو سره کار وکړي ترڅو ماشومانو مو خوندي پاتې شي.

## د ماشوم ته د بې توجهۍ او ناوړه استفادې تعریف څه دی؟

ماشوم ته بې توجهي یا له هغه څخه ناوړه استفاده په دې مانا ده چې یو کس د ماشوم روغتیا، هوساینې، یا د هغه د خوندیتوب ته په زیان رسولو سره هغه زخمي کړي، ناوړه جنسي استفاده ځنې وکړي، یا یې جنسي کړنې ته مجبور کړي، یا له ماشوم سره غفلت او ناوړه چلند وکړي. نور معلومات په آنلاین بڼه د **https://apps.leg.wa.gov/WAC/default.aspx?cite=110-30&full=true** وېبسایټ په WAC 110-30 فصل کې وګورئ.

## له څېړنې څه توقع کېدی شي؟

- DCYF کورنیو ته ډېر ارزښت ورکوي او د ماشومانو لپاره کار کوي ترڅو هغوی په خپلو کورونو کې خوندي پاتې شي. ستاسو د ماشوم خوندیتوب ډېر مهم دی او د دوسیې مدیر به ستاسو سره له نږدې کار وکړي ترڅو د شونتیا په صورت کې د ماشوم د خوندي ساتلو لپاره یوه لاره پیدا کړي.
- تاسو او ستاسو له ماشوم سره باید په هر وخت کې په ښه ډول چلند وشي.
- ستاسو سره به د والدینو، حقوقي سرپرست یا مسؤل کس په حیث یوه مرکه ترسره شي چې د دې څېړنې یوه برخه تشکیلوي.
- د قانون په اساس، کېدی شي ستاسو له اجازه پرته د څېړنې د یوې برخې په توګه ستاسو د ماشوم سره مصاحبه او تصویرونه واخیستل شي. ماشومان حق لري چې د خپلې مرکې په جریان کې په خپله خوښه د دریمې ډلې غړی حاضرکړي.
- معلومات به د سوابقو د ترلاسه کولو او له مختلفو مهمو کسانو سره د مرکو د ترسره کولو له لارې ترلاسه شي.
- کله چې به ادعا کې جرمي مورد موجود وي، د CPS تحقیق کوونکی ښائي د قانون د تطبیقوونکي سره همکاري وکړي ترڅو د راټولو شویو مکررو معلوماتو کچه راټیټه کړي.
- خدمات کېدی شي ستاسو دکورنۍ د اړتیاوو د پوره کولو، د کواښونواو امنیتي اندېښنو د کمولو په موخه عرضه شي، او یا هم کېدی شي ستاسو دوسیه د نظارت لپاره د کورنیو د داو طلبانه خدماتو اداري Family Voluntary Services (د ورنګی دواطلبانه خدمات) ته واستول شي.

## موندنې کومې دي؟

ښايي ادعا "موندل شوي" یا "نا موندل شوي" وي. موندل شوې ادعا په دې مانا ده چې، نظر په موجودو معلوماتو ډېر امکان لري چې له ماشوم سره بې توجهي او ناوړه استفاده ځنې شوې وي. نا موندل شوې ادعا په دې مانا ده چې، نظر په موجودو معلوماتو ډېر امکان لري چې له ماشوم سره بې توجهي او ناوړه استفاده نه وي شوې او یا هم په دې مانا ده چې د ادعا شوې مسئلې د تر سره کېدو یا نه ترسره کېدو په هکله کافي اسناد نه دي موجود.

## د موندنو په هکله به څنګه ما ته خبر راکول کېږي؟

تاسو ته به یو لیکل ولېږل شي او د موندنو په هکله به خبر درکړل شي. که چېرې موندې موندل شوې وي، نو په لیک کې به د موندنو پر وړاندې د استیناف غوښتنې طریقه هم ذکر شوې وي. دا استیناف غوښتنه باید د موندنو د لیک له ترلاسه کولو څخه تر 30 ورځو پورې د DCYF دفتر ته ثبت شي، کنې موندنې به نهایي شي. که چېرې له یو ځای څخه بل ځای ته ځئ، نو ځان ډاډه کړئ چې د دوسیې مدیر مو د نوي آدرس په هکله خبر دی.

## موندل شوې موندنې په ما کومې اغېزې لري؟

موندل شوې موندنې د DCYF په کمپیوټري سیستم کې په محرم ډول ساتل کېږي. دا موندنې د لاندې موخو لپاره استفاده کېږي:

- د محکمې په غونډو کې د ماشوم په هکله سند.
- د آسیب پذیرو ماشومانو او لویانو د پالنې په برخه کې ستاسو د دندې موندنې، جواز او داوطلبۍ په برخه کې تصمیم نیونه.
- پخواني معلومات او سابقه، د راتلونکو ادعاګانو لپاره.
- د دې په هکله پرېکړه کول چې آیا تاسو د یو خپلوان یا خپلوان ماشوم د ځای پرځای کولو او پاملرنې لپاره وړ یاست او که نه.

